# د زندان په اړه پوښتنو او پلټنو سرغړونی بربنډی کړی

**Author:** Ahmad Hanayash

سیمه اییزه قومندانان د افغانستان په ولایتونو کی پر قاضیانو فشار واردوي چی خلک په بی بنیاده تورونو زنداني کړي.

په افغانستان کی یوی حکومتي پلټنی رابرسیره کړی چی ځینی قومندانان د زندانونو څخه د ګټی په اخیستو شخصي نفوذ زیاتوي او له بډایو اوسیدونکو څخه پیسی تر لاسه کوي چی یو يي خو آن خپل شخصي زندان لري.

یو پنځه کسیز پلاوی د پروان او کاپیسا ولایتونو ته چی د کابل په شمال کی دي ورلیږل شوی و چی د فساد او واک څخه د ناسمی کار اخیستنی د راپورونو پلټنه وکړي . دوی د پلټنی په ترڅ کی په هر یوه ولایت کی لس زندانونه ومونډل چی سیمه اییزه قومندانانو قضائیه چارواکي دی ته اړ ایستي چی خلک پرته له محاکمی زنداني کړي او ډیری داسی قضیي يي اوریدلي چی له زنداني کسانو سره ناسم چلند کیږي.

د پلاوي ریس نادر علي محدوی د جنګ او سولی راپور ورکوونکی ټولنی ته د دی اوون په لمړیو کی وویل چی په دغو ولایتونو کی زمونږ کار نږدی دوی میاشتی دوام وکړاو په دغه موده کی مونږ له ټولو کوچنیو او لویو سیمو څخه لیدنه وکړه. هغه څه چی زمونږ توجه راجلب کړه زندانونه او قومندانان و.

هغه وویل اوس مونږ یو راپور لیکو چی کابینی ته به وړاندی شي او هغوی به پریکړه وکړي چی څه کوي.

د سیمه اییزه چارواکو په وینا د پلاوي غړي له څو وزارتونو څخه انتخاب شوي و چی پکښی د عدلیي او مالیي وزارتونه هم راځي چی ورته لارښوونه شوی وه چی په سیمه کی د اوضاع په اړه له خلکو څخه د قومندانانو له خبرتیا پرته اختنی پوښتنی وشي چی په نتیجه کی يي په زندانونو کی د ناسم چلند او سرغړونو په هکله معلومات تر لاسه کړ.

پلاوي ومونډله چی د پروان ولایت د غوربند په ولسوال کی یو زندان چی د دوو غرونو تر منځ په یوه ګوښه سیمه کی يي موقعیت درلود او د سیمه اییز قومندان شخصي زندان و چی د قضائیه بهیر سره يي هیڅ ډول تړاو نه درلود. هغه مهال چی پلاوی زندان ته ورغی قومندان وویل ټول زندانیان طالبان دي خو زندانیانو پخپله دا خبره په کلکه رد کړه.

د کاپیسا ولایت په مرکزي زندان کی چی پلاوی يي د لیدنی له پاره د سیمه اییز قومندان له خوا بلل شوی و ، زندانیانو د جنګ او سولی راپور ورکوونکی ټولنی ته وویل دوی ته د سیمه اییز قومندان له خوا خبرداری ورکړ شوی و چی که چیری هغو کسانو ته چی له زندان څخه لیدنه کوي شکایت وکړي نو شدیده سزا به ورکړ شي.

له خبرداریو سره سره یو شمیر زندانیانو په لوړ آواز د دوی د غیرقانوني توقیف او ناسم چلند په اړه د پلاوي له رارسیدو سره سم چی د عسکرو له خوا يي ملتیا کیده په شکایت کولو پیل وکړ. د پلاوي د هغو ژمنو سره سره چی د خوشی کیدو هڅه به يي وکړي ، هځیدلو زنداني کسانو سره نور زندانیان هم یو ځای شول.

له زندانیانو څخه یوه تن چیغه کړه چی سیمه اییزه څارنوالانو له قومندانانو سره په پټه مرسته کړی او په پای کی مونږ اورده موده په زندان کی تیروو.

دوی وویل یو شمیر بډای خلک د سیمه اییزه قومندانانو په حکم په بی بنیاده تورونو زنداني شوي او دی ته اړ ایستل شوي چی د خپلی رهایي له پاره بډی ورکړي.

ملا قسیم چی د خپل تره زوی له پاره يي خواړه او جامی راوړي وویل: هغه مهال چی له څارنوال څخه مو پوښتنه وکړه چی ولی مو زمونږ خپلوان په غیرقانوني توګه زنداني کړی ، هغه ځواب ورکړ دا په مونږ پوری اړه نه لري او د سیمه اییز قومندان کار دی . هغه وویل چی مونږ ته يي ګواښ کړی و چی باید هغه څه وکړو چی دوی يي وایي.

هغه مهال چی پر زندانیانو د لګول شویو تورونو په هکله د تبصری له پاره د پروان ولایت د محکمی له ریس عبدالمنان څخه پوښتنه شوه هغه ﭘلاوي ته وویل مور په دی پوهیږو چی له زندانیانو سره ډیر بد چلند شوی خو هیڅ هم نه شو کولی ځکه چی مور ټوپکونه نه لرو. قانون د وسلو په وړاندی ناتوانه دی.

یوه ۱۸ کلن هلک پداسی حال کی وژړل چی سیمه اییز قومندان یي پدی تورن کړ چی دهغه د وژلو هڅه یي کوله او بیا یي هغه په جعلي شواهدو زنداني کړ.

هغه د جنګ او سولی راپور ورکوونکی ټولنی ته وویل پرته له دی چی زه پری وپوهیږم د سیمه اییز قومندان د اکا لور له ما سره مینه درلوده. هغه پر نجلۍ فشار واچوه چی له یوه بل کی سره واده وکړي. پداسی حال کی چی زه له کوځی تیریدم هغه پر ما ډزه وکړه. زه روغتون ته یوړل شوم او بهرنیو ډاکترانو وکولی شو چی زما ژوند وژغوري.

پداسی حال کی چی پر ګیډی یي د ګولیو ټپونه ښودل هغه وویل چی ښه شوم قومندان بیا بندي کړم. پر ما تور ولګول شو چی یو داسی کس می وژلی چی هغه پخپله په سیند کی ډوب شوی و. زنداني هلک چی پخپله یتیم و او د خپلو کوچنیو خویندو او ورونو سرپرستي یي کوله د هغوی د برخلیک په اړه یي ژور خپګان څرګند کړ. هغه وویل زه نه پوهیږم چی دوی به څنګه وي ځکه نهه میاشتی کیږي چی تری کوم احوال نه لرم.

په پروان کی یوه زنداني سیدهاشم وویل، له دی امله زنداني شوی چی یوه خپلوان یي له سیمه اییز روغتون څخه پیسی غلا کړي. هغه همدارنګه وویل یو کال کیږي چی بندي دی او په دغه موده کی په مکرره توګه وهل او ټکول شوی دی. دا چی زما د قضیي په هکله څوک نه غواړي واوري دلیل یي دا دی چی زما څخه بیا بیا د بډو غوښتنه کیږي.

خلیل چی د غلا پر مهال یي د ساتونکي (پیره دار) دنده درلوده وایي د وهلو ټکولو وروسته دی ته اړ ایستل شوی چی اقرار وکړي. هغه وویل مور ته اکثره په زندان کی خواړه نه راکول کیږي او هغه مهال چی کورنۍ مو خواړه راوړي نو د زندان ساتونکي یي اکثره پخپله خوري.

د کاپیسا په ولایت کی د جاوید په نامه یوه زنداني وویل وروسته له هغی بندي شو چی له هغی نجلی سره یي واده وکړ چی په ایران کی یي لیدلی وه. له واده څخه یوه ورځ وروسته هغه د نجلۍ په تښتونی تورن شو او په زندان کی واچول شو.

دا ﭘلاوی یو له هغو ګڼ شمیر ﭘلاو څخه و چی د ولس مشر حامد کرزي له خوا ولایتونو ته استول شوی و تر څو د هغو راپورونو پلټنه وکړي چی سیمه اییز قومندانان او چارواکي غیر قانوني پاڅکونه لري او په سیمه کی له تیریدونکو سوداګرو څخه مالیي اخلي.

د خلکو د شکایتونو پر بنسټ د دغو راپورونو له لوستو وروسته حامد کرزي تیره میاشت له ۱۱ ولایتونو څخه ۲۸ جګ پوړي چارواکي چی پکښی د پولیسو ګڼ شمیر ریسان هم و چی په یو لړ تورونو ګرم و چی پکښی د لرغونو آثارو او مخدره موادو قاچاق، د ګمرکي عوایدو غلا، وهنو ټکونو، لوټمارۍ او د مرکزي حکومت د دایرکتیفونو له پامه غورځول هم راځي.

کرزي چی د جون په میاشت کی د ولس مشر او د انتقالي حکومت د مشر په توګه انتخاب شو د ټولو ولایتونو والیانو او چارواکو ته خبرداری ورکړ چی که چیری د ناسم ګام په اخیستو ونیول شي نو د ورته برخلیک سره به مخامخ شي او په سیمو کی د دوهم ځل له پاره د پلټنو د تر سره کیدو له پاره یي حکم وکړ.

د ﭘلاوي مشر محدوی د جنګ او سولی راپور ورکوونکی ټولنی ته وویل زه یقین لرم چی کابینه به په دغو دوو ولایتونو کی چارواکو ته یو څه ووایي او ټوله نړۍ به د دغه چارواکو په هکله ډیر ژر وپوهیږي.

**Location:** [Iraqi Kurdistan]
[Iran]
[افغانستان]

---

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/%D8%AF-%D8%B2%D9%86%D8%AF%D8%A7%D9%86-%D9%BE%D9%87-%D8%A7%DA%93%D9%87-%D9%BE%D9%88%DA%9A%D8%AA%D9%86%D9%88-%D8%A7%D9%88-%D9%BE%D9%84%D9%BC%D9%86%D9%88-%D8%B3%D8%B1%D8%BA%DA%93%D9%88%D9%86%D9%89-%D8%A8%D8%B1%D8%A8%D9%86%DA%89%D9%89-%DA%A9%DA%93%D9%89